غفور لیوال ۲۰۱۲/۱۰/۲۱

# خپلې پولې څنګه وساتو؟

## څو ناپوځي لارې چارې

لومړۍ خبره :

موږ له خپلو ګاونډیو سره یو شمېر رسمي پولې لرو او یوه هم داسې فرضي کرښه چې دتاریخ دجبر لـه مخې اوس دپولې په توګه ورسره چلند کېږي . زموږ بحث اوس درسمي او نارسمي پولو په اړه نه دی، بلکې دهغو ګواښونو په اړه دی، چې پولې او کرښې ورسره مخامخ دي. ګڼ خبرونه رارسېدلي دي چې سرحدي کرښې دګاونډیانو لـه خوا لاندې کېږي ، په ځینو سیمو کې ګاونډي راننوتلي، پرځینو سیمو یې ګولۍ اورولي دي او په ځینو سیمو کې یې د بېلابېلو وسلو والو د روښ جوړ کړی دی ، هرڅه چې وي خو پایله یې دا ده چې دغو سیمو ته دګاونډیو نیتونه خیرن دي او په اوږو کې یې خامخا شګې شته، نو چې داسې ده دپولو دخوندیتوب لپاره هراړخیزو هلو ځلو تـه اړتیا شته او دا د ولس او دولت ملي مسئولیت دیچې خپله زمکنی بشپړتیاخوندي کړي .

دویمه خبره :

په دنیا کې هېوادونه خپلې پولې په پوځي او ملکي تدابیرو ساتي، پوځي لارې چارې یې هماغه دسرحدي ځواکونو، پولیسو اواستخباراتي -پوځي ځواکونو حضور دی چې هر هېواد یې لـه خپلو قوانینو او دپولـو دحساسیتونو لـه څرنګوالي سره سم ټاکي . کله چې ګاونډی لوری پولو ته څېرمه کوچنۍ خوځښت وکړي نو دا هېواد هم خپل تدابیر زیاتوي او په دې توګه تل هڅه کوي، چې دپولو ددواړو خواوو دځواکونو انډول او تعادل وساتي، خو موږ دلته په دې خبرو کار نلرو، ځکه ؛ هرسړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه ...

درېیمه خبره :

دپولو او زمکنۍ بشپړتیا اصلي ساتونکي خلک دي، نو دهمدې لپاره هوښیار حکومتونه ډېر ځله په ولسي ځواک تکیه کوي، دا هېڅکله په دې مانا نه ده چې ولس ته وسله ورکړي او په سنګرونو کې یې کېنوي، چې پولې وساتي . پولو تـه څېرمـه سیمې کـه لـه اقتصادي، تولیدي، خدماتي او فرهنګي پلوه پیاوړې شي دپولـو دخوندیتوب ترټولوځواکمن ضمانت رامنځته کېږي، همدا ده زموږ دبحث موضوع . ډېرځله په هغو هېوادونو کې چې په وچه کې راګیر وي او دترانزیت لارې یې پر ګاونډیو سپرې وي زمکنۍ پولې یې دعاید او ګټې ترانزیتي سرچینې ګڼل کېږي او دا ددغو سیمو امتیاز وي، چې له اقتصادي نظره یو ځه ښه حالت لري . نو ددغو سیمو د ولسونو د انساني ژوند دشرایطو د لاښه کېدو لپاره ښایي له ټولو هغو سرچینو څخه کار واخیستل شي ، چې هلته یې خلک کاروړی شي ، مانا کرنیزې زمکې، اوبه ، دبشري ځواک مارکیټ ، واړه صنایع او نور. دداسې فعالیتونو لپاره اړین امنیتي او ټولنیز بستر تـه اړتیا شته چې ددې لپاره حکومتونه مسئول دي.

څلورمه خبره :

دحکومتوالۍ یوه اصطلاح شته چې موږ یې په لړ پرتوسیمو کې دحکومت مدني حضور ګڼلای شو، دادحکومت دخدماتي بنسټونو هراړخیز فعالیت دی، چې ښایي پولو ته څېرمه سیمې ګټه ورڅخه واخلي، په دې کې ښوونځي، جوماتونه ، کلینیکونه، دکرنۍ موسسې، دټولنیز نظم پولیس، محکمه ، اداري واحدونه ( ولسوالۍ ) ، دسپورټ او تفریح ځایونه او لوبغالي، دعامه ګټو دساتلو بنسټونه، دسیاحت او توریسم مراکز او نور راتلای شي، دحکومت مدني حضور په خلکو کې دا حس پیاوړی کوي چې حکومت شته او دوی ته خدمات وړاندې کوي . ددې ترڅنګ دلارو او بازارونو شتوالی هم کولای شي دخلکو خپلمنځي اړیکې پیاوړې کړي . زموږ یوه ستونزه دا ده چې دحکومت مدني حضور یوازې په لویو ښارونو کې د ډبرینو دیوالونو تر شاه ورک دی، کلیوالو سیمو په تېره بیا پولو ته نږدې ولسونو ته نه دی معلوم ، د هرډول یرغل او ګواښ پرمهال پولوته دنږدې سیمو خلک نه پوهېږي چې په چا تکیه وکړي، هغوی لاهم په دې نه شي پوهېدای چې داسې یو حکومت په لویو ښارونو کې حاکم دی چې ددوی لپاره


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

مسئولیت لري، دخدماتي ادراو فعال حضور ولس ته رواني تکیه رامنځته کوي او دپولو ساتل دخلکو په منځ کې ددې لپاره حتمي کېږي، چې دوی یوازې نه دي بلکې یو سرکار یې تر شا ولاړ دی .

پېنځمه خبره :

دسرحدي سیمو فرهنګي ودې ته ډېره پاملرنه په کارده، ددوی ژبې، کلتور، دودونه، دودیزې موسسې (جرګه، مرکه، نرخونه ، دېره او اوجره ) ښایي وپالل شي، ددوی سیمه ییز مشران ښایي ونازول شي، له دوی سره تنویري ـ فرهنګي کار ته اړتیا شته، چې په دې توګه رواني امنیت ټینګ شي او خلک درواني ټیکاو په مرسته دخپلو سیمو او په تېره بیا د پولو فزیکي امنیت ټینګ کړای شي، د ولسونو ترمنځ د اعتماد او باور ډېرول پخپله یوه فرهنګي هڅه ده . دمعلوماتو له حق څخه ددې خلکو برخمنتیا مهمه ده، ددوی دسیمو او ټول هېواد له پېښو او پراختیا وو څخه ددغو خلکو خبرول مرسته کوي، چې دپولو دساتلو ولسي چارې منظمې او همغږې وي . سیمه ییزې او ملي رسنۍ ښایي پولو ته دنږدېولسونو لپاره ځانګړي پروګرامونه ولري او دغو خلکو ته ډاډ ورکړل شي، چې هېرکړای شو ي نه دي بلکې ددوی ونډه او ملي رسالت خورا مهم ګڼل کېږي .

شپږمه او وروستۍ خبره (وړاندیځ)

موږ دسرحدونو، اقوامو او قبایلو چارو په نامه یو وزارت لرو، ډېره اړینه ده چې دهمدې وزارت په دننه کې پولو ته دنږدې پرتو ولسونو لپاره یو ځانګړی جوړښت مسئول شي چې دحکومت مدني حضور حتمي کړي، خدمات ورسوي ( یا دخدماتي سکتورونو پر چارو نظارت وکړي)، فرهنګي هڅې پیاوړې کړي، دسیمو داقتصادي ودې لپاره لاره هواره کړي او له زمکنۍ بشپړتیا څخه دساتنې لپاره خلک وخوځولای شي . داهغه لارې دي چې په لکونو سرتېري، ټانکونه او توپونه یې په اسانۍ نه شي کولای، په تېره بیا ددې هېواد په اړه دهغه تاریخي منطق پر بنسټ داحکم کولای شو چې تل او په هر تاړاک کې ددې هېواد دهرې لویشتې اصلي ساتونکی ملت او ولس دی . راځئ دخلکو له دې زوره کار واخلو او دهغوی ملا په هغو لارو چارو سره وتړو چې مخکې مو ورته اشاره وکړه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ